پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۳/۰۸/۱۴

# د نجونو د تعلیم دایره نوره هم تنګېږي

## (په ښوونځیو او پوهنتونونو کې د نجونو د زدکړو ستونزه)

د هـغـو ملــتـونـو فـاتـحـه پـه ژونـد پـکار ده!
بـې واکه د مکتب د تالی شـور چې د چا مړ شي!

(عبدالوهاب باور)

په افغانستان کې د ننه او له څخه وطن د باندې، د نوي نسل د روزلو د پلويانو له څو سره ـ سره؛ د نجونو د ښوونځيو دروازې له دې سره ـ سره چې خلاصې نه شوې، بلکې د دې ستونزو تر څنګ، د نجونو د زدکړو پر لارو کوڅو کې نوي ازغي راټوکول شوي دي.

ځينو طالب چارواکو په خپلو تازه څرګندونو کې ويلي دي چې تر لس کلنۍ پورته عمر لرونکي نجونې نه شي کولای ښوونځيو  ته لاړې شي. دې موضوع پورې اړوند د تاند په يو ریوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند: ( شنبه، د زمري ۱۴ مه ) د غزني په ګډون د افغانستان له بېلابېلو ولايتونو راپورونه وايي، چې د طالبانو امربالمعروف دستګاه له لس کلنۍ څخه پورته عمر لرونکو نجونو ته د ښوونځيو ته تلو اجازه نه ده ورکړې.
يو شمېر زده کوونکو رسنيو ته ويلي، چې نجونو ته يوازې تر درېيم ټولګي د زده کړو اجازه ورکړل شوې ده.
زده کوونکو زياته کړې، چې په ښوونځيو کې ورته له درېيم ټولګي د پورته زده کړو اجازه نه ورکول کيږي.
له کابل او يو شمېر نورو ولايتونو څخه هم ورته خبرونه ورکړل شوي...»

سړی هکـحيران شي، چې ټوله نړۍ ورته يوې خوا ته ده وايي چې زدکړې د دې خلکو حق دی، وربې کړئ، خو واکداران پر  هماغه يوه ځای او يوه خبره باندې ټينګ ولاړ دي او د هر ډول استدلال په مقابل کې هماغه يوه جمله پرلپسې تکراروي چې: «د نجونو زدکړو ته ځانګړی چاپېريال او شرايط نه دي برابر.»

وسريه ستا شارايط څه شی دي چې نه برابرېږي، وخت او عمر خو نه درېږي، اډ دی دوه کاله وشول چې د ښوونځيو دروازې مو تړلي دي. ايا پر دې مو سر خلاصېږي چې له رواني پلوه، ښونځيو ته د نه تلونکو نجونو پر کورنيو او پر دوی باندې څه تېرېږي او څه ډول راتلونکې به ولري.

د افغانستان د معارف پر ستيژ باندې د نجونو د ښوونځيو د ستونزو ډرامه روانه ده او په منفي لوري پورې وهل کېږي، هماغه د سور ګل او تور ګل کيسه ده چې: «ما سورګل ژاړه، تور ګل يې پر خره سپور راوړ» موږ تر شپږم پورته د نجونو د ښوونځيو د پرانستو لپاره کار او هڅې کولې، خو واکدارانو د نجونو د زدکړو لپاره دايره نوره هم پسې تنګه کړه او اوس تر لس کلنو پورته ببخي ښوونځی ته نه پرېږدي.

خو دا خبره هم د يادولو وړه ده چې طالبان په خپلو منځو کې هم د نجونو د زدکړو په برخه کې په يوه خوله نه دي، عباس ستانکزی او ځينې نور ملګري يې د نجونو د زدکړو پلوي دي او د علم زدکړه پر نر او ښځه باندې فرض ګڼي. بي‌بي‌سي لا پخوا د عباس ستانکزي له خولې ليکلي وو چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

**«د نجونو زدکړې؛ ستانکزي يو ځل بيا د نجونو ښوونځيو پر پرانيستلو ټينګار کړی.»**

د بي‌بي‌سي د ياد رپوټ په يوه برخه کې داسې راغلي دي:

**«د طالبانو حکومت د بهرنيو چارو وزارت مرستيال شېر محمد عباس ستانکزي يو ځل بيا افغانستان کې نجونو لپاره د زدکړو فرصتونو پر برابرولو ټينګار کړی.**

نوموړي کابل کې يوې غونډې ته ويلي، چې زدکړه د ښځينو او نارينو طبيعي، اسلامي او شرعي حق دی او ديني عالمانو په دې اړه فتوا هم صادره کړې ده...

ښاغلی ستانکزی د طالبانو حکومت کې له هغو ګوتو شمار چارواکو دی چې د نجونو ښوونځيو د تړلو په اړه د طالبانو مشرتابه پر پرېکړه په زغرده نيوکه کوي...»

د عباس ستانکزي په څنګ کې ځيني نور طالب چارواکي هم شته چې د نورو طالبانو خلاف د نجونو زدکړي حتمي او فرض ګڼي. په لاندې عکس کې د طالبانو دوه لوړ پوړي چارواکي ليدل کېږی:

ــ د لوړو زدکړو وزارت مرستيال،

ــ د دعوت او ارشاد عمومي رئيس.

دوی د تعليم په باب دوه متضاد نظرونه وړاندې کړي دي: عصری زدکړې فرض دی، عصري زدکړې فرض نه دي، بلکې ديني زدکړې فرض دي.

دوی چې په خپلو منځو کې نه دي سره جوړ، نو عام ولس سره به څنګه تفاهم ته ورسېږي.




د دې خلکو په څنګ کې ځيني نور خلک هم شته چې په ښکاره طلبان مخاطبوي او د نجونو د زدکړو د ښېګڼو د بيان تر څنګ، د نجونو د نه زدکړو د پايلو په باب اخطارونه ورکوي.

ښاغلی عبدالوحيد وحيد د يوې خورا مهمې او لارښونکې مقالې په ترڅ کې طالبانو ته په خطاب کې ويلي دي کې:

«... د دغه بيچاره او مظلوم ملت د بچيانو په مخ د ښوونځيو او پوهنتونونو دروازې تړل ځورووونکی عمل او ځينې نور بنديزونه ناوړه پايلې او خطرناک عواقب لري.

لنډه دا چې که يوازې په زده کړو باندې د اوسنې حکومت ناوړه او ناروا بنديز هر اړخيزه څېړنه وکړو او ناوړه پايلې يې وسنجوو، نورې تولې نيمګړتياوې له پامه وغورځوو او هر څه سم وګڼو نو بيا به هم همدغه ستره تشه د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

حکومت د سکوټې ناکامي لپاره بسنه وکړي، د علماو د بدنامي لامل ګرزي، په راتلونکي کي د علماو د ټولنيز رول او اسلامي نظام په تړاو د خورا جدي پوښتنو او منفي غبرګونونو د راپورته کيدو لپاره به لاره هواره کړي.

د حيرانتيا خبره ده چي په يويشتمه پيړۍ کي د افغانانو بچياني د نانوايانو مخته کيناستی او خيراتي ډوډۍ ترلاسه کولای شي، په ښار کي ګداګري کولای شي، په لاس کي نيولي قلمونه پلورلای شي، په واټونو کي ګرزيدلای شي، له مارکيټونو څخه کورته سودا راوړلای شي. په ښار کې هرې خوا ته چکر لګولای شي، خو يوازې په فرض/مباح زده کړو باندي يې بنديز دی، د ښوونځيو او پوهنتونونو دروازې يې په مخ تړل شوي دي، خو موږ لاهم د شهامت شجاعت او ويښتوب دعوه کوو. همدغه شان د نړۍ د فتحه کولو او د زبرځواکونو د ماتولو شعارونه زمزمه کوو.»

دا کيسه به همداسي روانه وي، وبه ليدل شي چي د تعليم او د نوي نسل د روزلو پلويان به بريالي شي او که د نجونو له تعليم سره مخالفين به پر خپل ټينګار باندي ولاړ پاتي شي او د نوي نسل د تعليم د پلويانو د ژوند او افکارو لپاره به دايره نوره هم راتنګه او مزاحمتونه رامنځته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ